Afghan Pro Bono Initiative

Hosted by **Refugee Legal Support** and **Safe Passage International**

# معلوماتي پاڼه: د بریتانیا حکومت د افغان معلوماتو افشا کېدل

**وروستی اپډیټ: د 2025 کال د جولای 28**

دا معلوماتي پاڼه د افغانانو د ساتنې د پروګرامونو اړوند په بریتانیا کې د معلوماتو د وروستۍ افشا کېدنې پېښې په اړه معلومات وړاندې کوي. دا پاڼه د یوې سرچینې په توګه چمتو شوې چې د افغان اتباعو او د هغوی د کورنۍ غړو سره د دغې پېښې په درک کې مرسته وکړي، خو کومه قانوني مشوره نه ګڼل کېږي. د مهرباني له مخې دا په پام کې درسره ونیسئ چې په دې پاڼه کې وړاندې شوي معلومات یوازې د هغو محدودو جزئیاتو پر اساس دي چې د بریتانیا حکومت له خوا وړاندې شوي دي.

### د معلوماتو افشا کېدل یعني څه؟

د 2025م کال د جولای په 15مه نېټه، د [بریتانیا حکومت اعلان](#) وکړ چې د افغانانو د بیا مېشتېدو او مرستې پالیسی (ARAP) او د هغه پخواني پروګرام( Ex-Gratia Scheme EGS) اړوند د غوښتنلیکونو شخصي معلوماتو ته دروند زیان رسېدلی دی. د حکومت په وینا، دغې معلوماتي افشا هغه غوښتنلیکونه اغېزمن کړي چې د 2022م کال د جنورۍ تر 7مې نېټې یا مخکې ثبت شوي وو. په دې پېښه کې د یوه سپریډشیټ افشا کېدل شامل و چې د 18,714 اصلي غوښتونکو شخصي معلومات پکې شامل وو. د [یادونې وړ](#) ده چې د بریتانیا حکومت له خوا د دې اعلان پښتو او دري ژباړې هم خپرې شوي دي.

د معلوماتو د افشا کېدو پېښه د یوه سپریډشیټ د افشا کېدو له امله رامنځته شوې وه، چې پکې د هغو 18,714 غوښتونکو شخصي معلومات شامل وو چې یادو پروګرامونو ته یې غوښتنلیکونه سپارلي وو. دا معلومات احتمالاً لاندې موارد رانغاړي: نومونه، بیوګرافیکي معلومات، د غوښتونکو او د هغوی د کورنیو د اړیکو جزئیات او (احتمالاً) هغه دلایل چې له مخې یې د بیا مېشتېدو غوښتنه شوې وه.

### د معلوماتو همدا افشا کله تر سره شوې وه او ولې موږ یوازې اوس پرې خبر شو؟

د معلوماتو د افشا کېدو پېښه په لومړي ځل د 2022 کال د فبرورۍ په میاشت کې رامنځته شوه، کله چې د شخصي معلوماتو یو سپریډشیټ د بریتانیا د حکومت له رسمي چوکاټ څخه بهر افشا شو. د بریتانیا حکومت د دې افشا له پېښې څخه د 2023 کال د اګست په 14مه نېټه خبر شو، ځکه چې د یاد سپریډشیټ یوه برخه د فیسبوک په یوه ګروپ کې خپره شوې وه. د افشا له پېښې څخه د خبرتیا له امله، حکومت حقوقي ګامونه پورته کړل تر څو د دې معلوماتو د پراخ افشا کېدو مخنیوی وکړي، او یو ځانګړی د بیا مېشتېدو مسیر یې جوړ کړ، چې هغو کسانو ته یې ځانګړی کړی و چې د افشا له امله یې ژوند ته خطر متوجه و. یاد مسیر چې [د افغانستان د غبرګون لاره](#) (ARR) نومېده، د 2024 کال په اپرېل کې پرانیستل شو، او یو شمېر کسان او د هغوی کورنۍ یې بریتانیا ته راوستل. د ARR د شتون او د وړتیا معیارونه عامو خلکو ته نه وو افشا شوي، او دا مسیر یوازې

د بلنې له لارې فعال و. یاد پروګرام د 2025 کال د جولای په 4 مه نېټه بند شو، او نور فعال نه دی. اوس حکومت تایید کړې چې د ARR له مخې د مرستې مستحق کس باید لاندې شرایط لرلي وای:

i. د افشا له پېښې اغېزمن شوی وي (یعنې معلومات یې په سپریډشیټ کې شامل وي)
ii. داسې ګڼل شوی وي چې د طالبانو له خوا د هدف ګرځېدو تر ټولو لوړ خطر سره مخ وي؛
iii. په یوه لوړ خطر لرونکي هېواد کې اوسېږي او
iv. پخوا یې د شته لارو (لکه ARAP، ACRS او نورو) له مخې یې مرسته نه وي تر لاسه کړې

د معلوماتو د افشا کېدو پېښه او د افغانستان د غبرګون لاره (ARR) یوازې د 2025 کال د جولای په 15مه نېټه عامه شوه. دا ځکه چې د 2023 کال د اګسټ په میاشت کې، یو شمېر خبریالان چې د افشا له پېښې خبر وو، د بریتانیا د دفاع وزارت سره یې اړیکه ونیوله او هوکړه یې وکړه چې په لیست کې د افشا شوو کسانو د امنیتي خطرونو له امله هېڅ څه خپاره نه کړي. وروسته، د دفاع وزیر د افشا شوې پېښې د خپرېدو د مخنیوي لپاره له سترې محکمې څخه د یوه بندیز غوښتنه وکړه.

د دې غوښتنې په پایله کې، د 2023 کال د سپتمبر په 1 نېټه، سترې محکمې یو سخت بندیز صادر کړ چې سوپر-انجکشن ورته ویل کېږي. دا بندیز نه یوازې د افشا شوې پېښې د معلوماتو خپرول منع کړل، بلکې د بندیز د شتون په اړه هم د خبرو اجازه نه وه. دا بندیز د لومړي ځل لپاره صادر شو، او بیا بیا د سترې محکمې له خوا د 2023 کال په نومبر، د 2024 کال په فبروري، د 2024 کال په مې، د 2024 کال په جولای او د 2025 کال په جولای کې یې بیاکتنه وشوه. بالاخره، د 2025 کال د جولای په 15مه نېټه، سترې محکمې دا بندیز لغوه کړ او په پایله کې یې دا معلومات عام شول.

**څرنګه پوه شم چې ایا زه د معلوماتو د همدې افشا له امله اغېزمن شوی یم که نه؟**

تاسو یوازې هغه وخت د معلوماتو د افشا کېدو له خطر سره مخ یاست که مو د ARAP یا EGS پروګرام لپاره خپل غوښتنلیک **د** 2022 کال د جنوری تر 7مې نېټې یا مخکې سپارلی وي. که دا شرایط پر تاسو تطبیق کېږي، نو کولای شئ د معلوماتي پېښې ځان-کتونکي وسیله (Data Incident Self-Checker) وکاروئ، تر څو معلومه کړئ چې تاسو (او د کورنۍ هر هغه غړی یا تاسې پورې تړلی کس چې په غوښتنلیک کې ذکر شوی وي) اغېزمن شوي یاست که نه.

که تاسو له یوه نه زیات غوښتنلیکونه سپارلي وي، نو ښایي تاسو ته یوه نه زیات ریفرنس شمېرې (reference numbers) درکړل شوې وي. د حکومت لارښود وایي چې تاسو باید هر ریفرنس شمېره جلا جلا وڅېړئ.

که تاسو هېڅکله د ARAP یا EGS لپاره غوښتنلیک نه وي سپارلی (لکه یوازې د ACRS یا بل پروګرام لپاره مو غوښتنه کړې وي)، نو ستاسو معلومات د دې افشا شوې سپریډشیټ برخه نه دي، او له دې افشا سره تړاو نه لري.

سربېره پر دې، ممکن تاسو ته د دفاع وزارت (MOD) له خوا یو لیک درلېږل شوی وي، چې بڼه یې د [دې نمونې](#) یا [دې بلې نمونې](#) سره ورته وي.

**ما خپل اسناد ورک کړي دي/زما خپل ریفرنس شمېرې نه دي په یاد – نو زه باید څه وکړم؟**

که تاسو د ARAP، EGS، یا ATAE ریفرنس شمېره نه پېژنئ (یا د ټولو نه لرئ)، نو کولای شئ د دفاع وزارت (MOD) له لارې د تماس فورمه وکاروئ تر څو دا معلومات تر لاسه کړئ. تاسو باید ټول نومونه ورکړئ چې ترې استفاده کوئ (په ځانګړې ډول که نوم مو په څو بڼو لیکل کېدای شي). که د دفاع وزارت ونه توانېږي چې ستاسو معلومات ژر پیدا کړي، نو ممکن له تاسو څخه نور معلومات وغواړي.

تاسو همداراز کولای شئ د( Subject Access Request SAR) غوښتنه وکړئ. دا یوه داسې رسمي غوښتنه ده چې له حکومت څخه د هغو ټولو معلوماتو کاپي غواړئ چې ستاسو په اړه یې دوی لري. که تاسو له دفاع وزارت سره په افغانستان کې کار کړی وي، نو د SAR فورمې د وړاندې کولو لپاره کولای شئ له دې رسمي پاڼې څخه استفاده وکړئ. که تاسو له بلې حکومتي ادارې سره کار کړی وي (لکه د بهرنیو، همکټو او پراختیایي چارو دفتر FCDO)، نو باید د هماغې دولتي ادارې رسمي ویب‌پاڼه وګورئ چې تاسې ورسره د مشخص SAR پروسې لپاره کار کړی.

**زه پوهېږم چې د معلوماتو له افشا څخه اغېزمن شوی یم، زه څه کولای شم؟**

د بریتانیا حکومت د هغو خلکو لپاره چې له دې اړخه اغېزمن شوي دي په انګریزي، دري او پښتو ژبو باندې یو لارښود خپور کړی.

که چېرې ستاسې معلومات افشا شوي وي، نو دا چې څه باید وکړئ دا ستاسې په اوسني موقعیت او د غوښتنلیک په حالت پورې اړه لري.

لاندې به موږ تاسې ته په دې اړه چې که ستاسې د ARAP/EGS غوښتنلیک لا تر اوسه پورې په بشپړ ډول سره پای ته نه وي رسېدلی نو باید څه وکړئ یا دا چې که فکر کوئ چې پایله به یې د معلوماتو د افشا له امله بدله شي، لا زیات معلومات درکړو.

**زه بریتانیا ته د ARAP/EGS یا ARR له خوا راوړل شوی یم او زما معلومات افشا شوي دي.**

که تاسو د انتقال لپاره وړ بلل شوي یاست او ستاسو غوښتنلیک بشپړ شوی وي، نو د معلوماتو افشا کېدل به په بریتانیا کې ستاسې پر وضعیت هېڅ اغېز ونه لري. خو بیا هم، تاسې د دې جوګه یاست چې د تاوان غوښتنه وکړئ. څو قانوني شرکتونه شته چې درسره مرسته کولای شي ترڅو معلومه کړي چې تاسو د تاوان غوښتنه کولای شئ که نه.

- Wilsons Solicitors LLP: public@wilsonllp.co.uk
- Leigh Day: ARAPdatabreach@leighday.co.uk
- DPG: newcaseenquiries@dpglaw.co.uk

**زه یو ځنډول شوی د ARAP/EGS غوښتنلیک لرم او زما معلومات افشا شوي دي، دا به څه ډول پر ما اغېز وکړي؟**

که تاسو یا ستاسو د کورنۍ غړي د برېتانیا څخه بهر یاست او د یوه غوښتنلیک د پرېکړې په انتظار کې یاست، نو امکان لري چې تاسو د دې افشا شویو معلوماتو په اړه اندېښمن واوسئ او فکر کوئ چې دا پېښه به ستاسو او ستاسو د کورنۍ لپاره په څه معنی وي.

د برېتانیا حکومت ویلي دي چې:

- دوی پر دې اند دي چې په دغه سپرېډشیټ کې د راغلو افشار شوو کسانو لپاره خطر هومره لوړ نه دی.
- دوی پر دې اند نه دي چې ګواکې طالبان به د همدې معلوماتو په کارولو سره کوم کس په نښه کړي او له همدې امله ده چې د ARR پروګرام تړل شوی دی.

خو تاسو ممکن داسې دلایل ولرئ چې باور وکړئ تاسو یا ستاسو کورنۍ د هدف ګرځېدو له خطر سره مخ یاست، او شاید وغواړئ چې د دفاع وزارت ته لیک ولیکئ. د دې خطر د ارزونې لپاره، تاسو کولای شئ له هغوی څخه وغواړئ چې تایید کړي کوم شخصي معلومات ستاسو او ستاسو د کورنۍ په اړه په سپرېډشیټ کې شامل شوي وو. که اړتیا وي، تاسو ممکن وغواړئ چې د معلوماتو د افشا کېدو اغېزې پر ځان او خپل غوښتنلیک تشریح کړئ، او روښانه کړئ چې ولې تاسو په ځانګړي ډول د خطر سره مخ بلل کېدلی شئ.

RLS د هغو کسانو لپاره یو نمونوي لیک چمتو کوي چې په دې وضعیت کې دي، څو له دفاع وزارت څخه وغواړي چې ژر تر ژره پرېکړه وکړي. موږ هیله لرو چې دا لیک به ډېر ژر تاسې سره شریک کړو.

**زما ARAP/EGS غوښتنلیک یا د ARAP/EGS بیاکتنه رد شوې ده، زه څه باید وکړم؟**

که ستاسو معلومات افشا شوي وي او ستاسو غوښتنلیک، همدارنګه د بیا کتنې له ترسره کېدو وروسته، رد شوی وي، دا معمولاً معنا لري چې ستاسو غوښتنلیک پای ته رسېدلی.

خو که تاسو داسې نوي او قوي شواهد ولرئ چې په غوښتنلیک او د بیا کتنې پر مهال موجود نه وو، نو باید د بلې بیا کتنې غوښتنه وکړئ. موږ وړاندیز کوو که ستاسو شخصي معلوماتو افشا کېدل تاسو د خطر سره مخ کړي، یا خطر زیات کړی وي، دا باید د نویو قانع کوونکو شواهدو په توګه وکتل شي. له همدې امله، تاسو کولای شئ د بیا کتنې نوي غوښتنه وړاندې کړئ. تاسو کولای شئ یو بیان هم پکې شامل کړئ چې هغه کې راغلي وي چې د معلوماتو افشا کېدل تاسې ته کوم خطرونه رامنځته کړي؛ د هغو مشخصو ګواښونو په ګډون چې تاسو یا ستاسو د کورنۍ غړي ورسره مخ شوي یاست، لکه د کور تلاشي، نیونې یا نور ډول ځورونې. تاسو کولای شئ د APBI د ځانمرستې لارښود څخه استفاده وکړئ، چې پکې د شاهدانو د بیان برخه هم شامله ده؛ ( 32 مې پاڼې ته مراجعه وکړئ؛ 2 ضمیمه).

د مهربانۍ له مخې دا در سره په یاد وساتئ چې موږ دا تضمین نشو ورکولای چې ستاسو د بیا کتنې غوښتنه به ومنل شي یا ستاسو غوښتنلیک ته به منظوري ورکړل شي. دا ځکه چې غوښتنلیکونه تل په انفرادي ډول ارزول کېږي.

تاسو باید د بیا کتنې غوښتنې فورمه دلته ډکه کړئ، یا ایمیل واستوئ: ARAP-Casework@mod.gov.uk

RLS همداراز د یوه لیک مخلیکنه برابروي چې تاسو یې د بیرنۍ بیا کتنې د غوښتنې لپاره کارولای شئ، که چیرې تاسو په دې وضعیت کې یاست او پوهیږئ چې ستاسو معلومات د افشا شوېو معلوماتو برخه وو. موږ هیله لرو چې دا لیک به ډېر ژر زموږ پر وېبسایت خپور کړو.

**د کورنۍ یوه غړي معلومات افشا شوي، او اوس زه فکر کوم چې له خطر سره مخ یم. ایا لا هم کولای شم د ARAP لپاره غوښتنلیک وسپارم؟**

د بریتانیا حکومت د نویو غوښتنلیکونو لپاره د ARAP پروګرام د 2025 کال د جولای میاشتې په 1 نېټه بند کړ. نور امکان نشته چې د ARAP غوښتنلیک وړاندې شي او آنلاین فورم ته لاسرسی هم نشته.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ، چې د ARAP پروګرام بندېدل پر هغو کسانو باندې نه پلي کېږي چې له مخکې یې غوښتنلیکونه وړاندې کړي دي. ټول موجود غوښتنلیکونه او د بیا کتنې غوښتنې به لا هم وڅېړل شي.

همداراز، که تاسو له مخکې د ARAP لپاره غوښتنلیک نه وي وړاندې کړی، خو ستاسو خپلوانو غوښتنلیک ورکړی وي او تاسو د کورنۍ د غړي په توګه پکې شامل شوي یاست، که چیرې پرېکړه شوې وي چې تاسو د دې پروګرام له مخې د مرستې وړ نه یاست نو ممکن وي چې د ناوخته بیا کتنې غوښتنه وکړئ.

**زه د ARAP/ARR پروګرام له مخې انتقال شوی یم او د نامحدوده اقامت توافق (ILR) / ALES) مې ترلاسه کړی. زما ځینې نور اضافي د کورنۍ غړي د نه وړتیا په اساس رد شوي دي (لکه زوړ مور/پلار، بالغ ورور/خور او د هغوی د کورنۍ غړي). هغوی څنګه کولای شي چې له ما سره یوځای په بریتانیا کې ژوند وکړي؟**

که تاسو د خپلې کورنۍ غړي د ARAP/EGS په اصلي غوښتنلیک کې شامل کړي وي او هغوی ته د نه وړتیا منفي پرېکړه درکړل شوې وي، ممکن تاسو د دې پرېکړې د بیا کتنې غوښتنه وکړئ. دا غوښتنه معمولاً باید د 90 ورځو په موده کې وړاندې شي، خو که تاسو داسې دلیل لرئ چې ګواښونه یې د معلوماتو افشاء له امله رامنځته شوي یا زیات شوي، نو دا شرط ممکن لغوه شي.

که تاسو د خپلې کورنۍ غړي په اصلي غوښتنلیک کې نه وي شامل کړي، نو د هغوی معلومات به معمولاً د معلوماتو افشاء برخه نه وي. خو که تاسو اندېښنه لرئ چې دوی اوس د همدې افشاء له امله له خطر سره مخ دي، نو کولای شئ چې له ARAP-Casework@mod.gov.uk سره اړیکه ونیسئ او د کورنۍ د اضافي غړو لپاره ترې فورمه وغواړئ. تاسو باید په تفصیل سره روښانه کړئ چې ولې ستاسو کورنۍ اوس له خطر سره مخ ده، او ولې هغوی په اصلي غوښتنلیک کې نه وو شامل.
که پورته ذکر شوې دواړه حالتونه پر تاسو یا ستاسو کورنۍ نه تطبیقیږي، نو د دې لپاره هېڅ ځانګړی پروګرام نشته چې ستاسو کورنۍ له تاسو سره په بریتانیا کې یوځای شي. خو ممکن هغوی مستقیماً د کورنیو چارو وزارت ته د کډوالۍ غوښتنلیک ورکړي، ترڅو له تاسو سره یوځای شي. نور معلومات دلته موندلای شئ.

که پورته ذکر شوی هېڅ یوه وضعیت پر تاسو یا ستاسو د کورنۍ پر غړو نه تطبیق کېږي، نو دا مهال کوم ځانګړی پروګرام نشته چې ستاسو کورنۍ له تاسو سره په بریتانیا کې یوځای شي. بنایي هغوی وکولای شي چې مستقیماً د کورنیو چارو وزارت ته د کډوالۍ غوښتنلیک وسپاري، ترڅو له تاسو سره یوځای شي. نور جزئیات دلته موندلای شئ.

**ایا افغانانو ته لا هم کومې لارې پاتې دي چې بریتانیا ته راشي؟**

د 2025 کال د جولای په 1 نېټه، د ARAP پروګرام د نویو غوښتنلیکونو لپاره بند شو، او د ACRS پروګرامونه د نویو راجع کولو لپاره بند شول. اوس هېڅ داسې ځانګړی پروګرام نشته چې له مخې یې افغانان بریتانیا ته راشي.

**زه د خپلې کورنۍ د غړو په اړه چې افغانستان کې دي ډېر فشار احساسوم. څه باید وکړم؟**

د معلوماتو افشا یوه ډېره خواشینونکې خبره ده. دا طبیعي ده چې غمجن، ګډوډ، اندېښمن یا له فشار سره مخ احساس وکړئ. که د رواني روغتیا ملاتړ درسره مرسته کولای شي، مهرباني وکړئ له متخصصینو سره تماس ونیسئ.
تاسو کولای شئ دا ملاتړ دلته ترلاسه کړئ (د هغو لپاره چې په بریتانیا کې دي) یا دلته (د هغو لپاره چې په افغانستان یا سیمه کې دي).